SHARIAT

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال اته شپیتمه گڼه پرله پسې (۳۵۵) سه شنبه د۱۴۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (۲۱) د۱۳۷۹هـ ش کال د وږي دمیاشتی (۲۹) د ۲۰۰۰میلادي کال د سپتمبر (۱۹)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه چې عدل (عـــدل) د پرهېزگارۍ سره نژدې دی تقوا (پرهېزگاري) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس رابه‌بی حرمتی بگذارید.

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین له امریکا غږ سره په مرکه کی :

نړیوال باید نور په افغانستان کی په موجودو واقعیتونو سترگی پټی نکړی

درتولوستونکو الکه چې تاسو هم خبر یاست د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت معین مولوی عبدالرحمن زاهد په دې وروستیو کی د یوه دیپلوماتیک سفر لپاره فرانسی او بیا د امریکی متحده ایالاتو ته تللی دی د امریکا غږ ورسره مرکه کړېده چې خبرونه یې دلته مناسبه بولو.

په پیل کی د بهرنیو چارو محترم معین د خپل سفر په اړه داسې ووېل : تاسو ته معلومه ده چې د امریکا په متحده ایالاتو کی د ملگرو ملتونو سر مشریزه دایره ده او د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو استازو پکی گډون کړی موږ هم له هغې امله د لته راغلي یو چې له هغو استازو سره وگورو او هغوی په هغو حقایقو خبر کړو چې فعلاً زموږ په هېواد کی جریان لري. هغوی ته د هغو کارونو په اړه معلومات ورکړو چې د

افغانستان د اسلامي امارت لخوا ترسره شوېدي. زموږ دښمنانو موجود واقعیتونه بل ډول ښودلي دي موږ غواړو چې له هغوی نه پرده پورته کړو

محترم زاهد د بین المللی تولنی لخوا د اسلامی امارت د رسمیت پېژندلو په اړه داسې ووېل : د نړیوالی تولنی لخوا په رسمیت پېژندل د هر هېواد او هر چا مسلم حق دی او د افغانستان د خلکو یو مسلم شوی حق او

ص ۴

د بهرنیو چارو محترم وزیر :

د امنیت شورا بندیزونو زموږ ستونزې زیاتې کړي دي

د روســـانو د یرغـــل له امله زمونږ اقتـــصاد ســـخت زیانمـــن شـــوی دی

په اوسنیو شرایـــطو کی مــــونږ د ټولو مرستندویه مؤسسو د مرستو هر کلی کوو

اوس په افغانستان کي تر بل هر وخت د خیریه موسسو لپاره د کار زمینه برابره شوی ده

د ان . سی.ای اداري رئیس اتل شومر قبلد

کابل - باختر :

د افغـانســتان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل پرون له غرمی مخکی د خپل کار په دفتر کی د ان. سی. ای اداری هیأت سره وکتل.

ددغی کتنی په پیل کی د ان . سی . ای اداری رئیس ښاغلی اتل شومر قبلد د اړوندی موسسی د کار او فعالیت په باب خبری وکړی او څرگنده یې کړه چې بېرنی او انکشافی مرستی او د ماینونو د پندولو په خاطر تبلیغات زموږ د موســــی د کار اساسی برخې دي.

په افغانستان کی د مکرو ربانونو د اوبو رسولو د پروژې تمویلول او په ولایتونو کی د روغتیایي او کرنیزو مرستو تر سره کول او د روانی وچکالی له امله مصیبت ځپلو خلکو سره مرسته زموږ په تر سره شویو کاری پروگرامونو کی شامل دي.

ده په پای کی ووېل اوس د بل هر

۴ مخ

در اثر کنترول هیئت وزارت عدلیه :

بیست دفتر رهنمای معاملات مسدود گردید

کابل - باختر :

بیست دفتر رهنمای معاملات در ناحیه چهارم شهر کابل در اثر کنترول هیأت مؤظف وزارت عدلیه دیروز برای مدت یکماه مسدود گردید .

هیأت مؤظـــف ریاست قضایای امارتي وزارت عـــدلیه دیروز نیز امور دفاتر رهنما های معاملات ناحیه چهارم کـــابل را بررسي و کنتـــرول نموده و در نتیجه بیـــست دفـــتر رهنمای معـــاملات را نـــسبت نداشتن کـــتاب ثبت و عدم تجدید جواز نامه ها برای مدت یك ماه مـسدود نمـود کــــار هیأت ادامه دارد.

سیمینار استادان ثقافت اسلامي تدویر یافت

کابل - باختر :

نخـــستین سیمـــینار استادان ثقافت اسلامي و تحقق اصول اکادمیکی در وزارت تحـــصیلات عالي دیروز در ادیتوریم پوهنتون کابل تدویر یافت.

در این ســـمینار که به اشتراك محترم ملا محمد حسن اخند معاون اداري ریاست الوزرا، محترم ملا امیر خان متقی وزیر معارف، محترم ملا

ص ۴

محترم قاضي القضات امارت اسلامي افغانستان :

قضات محاکم مسؤلیت شان را بشکل درست ادا نمایند

شورای عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان دیروز در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید. بعداً محترم قاضي القضات روي موضوعات و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نموده که در

ص ۴

په پکتیکا کی :

اته جریبه ځمـــکه د بنـــگوله بوټو څخه پـــاکه شوه

پکتیکا - باختر :

د پکتیکا ولایت په مرکز کی اته جریبه ځمکه په دې وروستیو وختو کی د بنگو له بوټو څخه پاکه شوه .

د منکراتو د مخنیوی په باب د امر

۴ مخ

نسبت تخلف از مقررات صحي :

۸ باب دواخـــانه مسدود گـــردید

کابل - باختر :

هشت باب دواخانه در مناطق مربوط ولسوالي پغمان ولایت کابل نسبت تخلف از مقررات صحي وزارت صحت عامه براي پنج یوم مسدود گردید.

مـوظفیـن ریاست قـوانین و

ص ۴

در امریکا مبارزه انتخاباتي براي احراز کرسي ریاست جمهوري جریان دارد

مبارزه انتخاباتي براي احراز کرسي ریاست جمهوري در ایالات متحده امریکا جریان دارد .

از جمله دوکاندید این انتـخـابات جـــورج دبلیـــوبوش در نظر دارد براي تشریح پروگرام خود به نه ایالت و دوازده شهر ایالات متحده امریکا سفر نماید.

وي همـــچنان در باره آمـــوزش و

ص ۴

پروژه آبرسانی کارته پروان شهر کـــابل افتتاح گردید

شریعت : کار شبکه آبرساني کارته پروان شهر کابل که از طی دو سه بدینسو به اهتمام و مـساعدت فني و تخنیکي ریاست عمومي آبرساني وزارت فواید عامه و کمك مالي افغانهاي مهاجر مقیم امریکا توسط موسسه خیریه اطفال جنگ زده پیش برده مـــیشد، قبل از ظهر دیروز توسط

ص ۴

عنقریب در شهر کابل:

کارت نان خبازي هاي ملل متحد تجدید میگردد

شریعت : دفتر سازمان غذایي جهان مصمم است تا عنقریب پروسه تجدید پنجاه و سه هزار قطعه کارت نان خبازي هاي آن موسسه را در شهر کابل آغاز نماید.

ص ۴

گزارش از شفاخانه ستوماتولوژي کابل :

شفاخانه ستوماتولوژي یکي از شفاخانه هاي مهم تداوي دندان در شهر کـــابل به شمار میرود

شــــریعت : شفاخانه ستوماتولوژي یکي از شفاخانه هاي مهم تداوي دندان در شهر کابل بشمار میرود. این شفاخانه در سال ۱۳۱۱ توسط داکتر فوت جرمني بنا نهاده شده است.

این شفاخانه با داشتن شعبات مـــختلف در ســـرویس هاي جداگــــانه اناث و ذکور

ص ۴

د لعل پوری ولسوالی نه د تورخم په استقامت ۹ کیلو متره سرک په پاخه او اساسی ډول جوړ شوی دی

شریعت : قدرمنو لوستونکو! اوس راگړخو چې زموږ خبریال د ننگرهار ولایت د ستــاسی پام د هغـه رپوټ لوستلو ته فواید عامی د لوی ریاست له رئیس

۴ مخ

محترم الحاج مولوي محمد فاضل رئیس عمومي انستیتوت پولي تخنیك کابل در مصاحبه با «شریعت» :

مؤسسه پولي تخنیك از آغاز فعالیت خویش الي سال ۱۴۲۰ بیشتر از ۵۳۰۰ تن فارغ را بجامعه تقدیم نموده است

نخستین گروپ فارغ التحصیلان انستیتوت پولي تخنیک در سال ۱۳۶۳ هـ ش به جامعه تقدیم گردید

شریعت : خوانندگان محـــترم ! خبرنگار ما از انستیـــتوت پولي تخنیك کابل دیدن نموده و با محترم الحاج مولوي محمد فاضل رئیس عمومي آن موســـسه مصاحبه را انجام داده است که توجه شما عـــزیزان را به خـــوانش آن مـــعطوف میداریم.

در آغاز محتـــرم الحاج مولوي محمد فاضل رئیس عمومي انستیتوت

ص ۲

در کولمبیا :

قواي حکومتي و شورشیان درگیر جنگ هاي شدیدگردیدند

قواي حکومتي و شورشیان کولمبیا در شمال غرب آنکشور درگیر جنگ هاي خونین شده اند. بر اساس خبر هاي

ص ۴

په اروپا کی :

د تیلو د بیې د لوړوالی په اړه اعتراضونه دوام لري

ویانا - باختر :

په زیاترو اروپایی هېوادو کی د تیلو د بیې د لوړېدو په ضد د اعتراضونو او مظاهرو له کبله سره سره په ناروې کی د عمومي اعتراضونو لپاره ... زیاتېدونکي دي.

د وارسېدلو خبرونو له مخې ... او متظاهرو ...

۴ مخ

د اتلانتیس بېړی پرون :

له نړیوال فضـــایي ستــــیشن نه جــــلا شوه

د اتلانتیس بېړی په نړیوال فضایي تم ځای کی د اړتیا ور مواد او وسایلو د ښسپړولو او بولولو په اړ کی پرون له دغه تم ځای نه جلا شوه.

د بېړۍ عمله چې له پنځو تنو امریکایانو او دوو روسانو نه متشکله ده نړیوال فضایي تم ځای ته له ځانه سره خواړه او وسایل ... برېښنا او نورې ... تنظیم کړېدي.

دغې بېړۍ ... مخکې په ... حرکت کړی او ... ځمکې ته راورسېږي.



منظره زیبای از تعمیر انستیتوت پولی تخنیک کابل

عکاس یوسف

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

نړی باید د افغان مهاجرینو ستونزی هیری نه کړی

په افغانستان باندې د روسی یرغل او بیا د همدوی په لاس وهنه د تپل شوی کورنی جگړی له امله په ملیونونو افغانان، لا تر اوسه پوری په ایران، پاکستان او نورو هیوادو کی لالهانده گرځی که څه هم په ړومبی سر کی له دغو مهاجرینو سره ښی نړی والی مرستی کیدلی خو ورو ورو د افغان کډوالی په اوږدیدو دا موضوع زړه شوه او بیا په ځانگړی توگه په هیواد کی د اسلامي امارت په قیام سره چې لویدیځ والو د سیاسی تاوتریخوالی او

ص ۲

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

بی ځایه پلمو له کبله خپلی مرستی ودرولی نو د مهاجرو ستونزی لا پسی زیاتی شوی . سره له دی چی اوس افغان مهاجرین د پردیسی په کمپونو کی د لانور پاتی کیدو لپاره مرستی نه غواړی بلکی ټول هیله من دی چی ژر تر ژره خپل کلی کورته ستانه شی او په دی هکله باید د ملگرو ملتو له خوا په کافی اندازه مرستی ورسره شوی وای خو له بده مرغه نوموړی اداری بیا هم د خپلو سیاسی غرضونو په خاطر له خپلی اصلی ذمه واری چی خپلو کورو ته د مهاجرینو لیږدول دی، شا ورواړوله او په دَاسی حال کی بی بوازی پریښودل چی له یوی خوا هیواد شل کلنو جگړو ځپلی او له بلی خوا د روانی وچکالی په اثر کرنی او مالداری ته له اټکله پورته زیانونه وراوښتی دی اوس چی د ملگرو ملتو د مهاجرینو لویه کمشنره مېرمن اوگاتا د سیمی په دوره راغلی او دا دی په هرات کی بی د اسلامی امارت د چارواکو سره سلا مشوری کړی دی ښایی د موضوع جدیت ته پاملرنه وکړی او د نړی والو پام هم راواړوی، ځکه اوس په هیواد کی د بی نظمی، ملوک الطوایفی او کلی په کلی جنگ جگړو تغر ټول شوی او ټول افغانان لیواله دی چی د خپل هیواد په ودانی او سمسورتیا کی برخه واخلی، له دی وروسته افغانانو ته له هیواده بهر اوسیدل کوم مجبوریت نه دی او اسلامی امارت د زړه له کومی غواړی چی څومره ژر کیدای شی مهاجرین خپلو کورو ته راستانه شی، د مهاجرینو په هکله د اسلامی امارت سره څه سیاسی اندیښنی هم نشته او ټول مهاجرین کولای شی بی له کومی ستونزی او په خوشالی سره د خپلو ورانو ویجاړو مینو په آبادولو لاس پوری کړی .

اسلامی امارت به هم د خپل وس سره سم د هغوی په پالنه گروېږنه کی هیڅ سستی ونه کړی او لکه څنگه چی د هیواد قومی او ملی ستالمیت او ځمکنی بشپړتیا ساتل او د گډوډی او بی نظمی له منځه وړل د اسلامی امارت له اهمو ارمانو او اصلی موخو څخه و، همدغه شان د مهاجرینو بیرته میشت کول هم د امارت یوه مهمه دینی او ملی فریضه ده او هیڅکله به په دی لار کی د غفلت او بی پروایی نه کار وانخلی خو څرنگه چی اوس د اقتصادی بندیزونو سره لاس گریوان او ډیری اقتصادی ستونزی لرو، نو د ملگرو ملتونو له مسولینو څخه غوښتنه کوو چی هیواد ته د مهاجرینو په لیږدونه کی په خلاص مټ مرستی وکړی او د نیستی په پلمه دا موضوع وړه او زړه ونه بولی، بلکی د کاسووا او ختیځ تیمور د کډوالو په شان چی ملگرو ملتو په زړه پوری مرستی ورسره وکړی دلته هم د سیاسی مفرضینو پروا ونه ساتی ، خپلی نړی والی ذمه واری تر سره او د افغان مهاجرینو په لیږدونه او میشتونه کی فعاله ونډه واخلی.

یوه لویه اقتصادی کښاله
په هیواد کی د کوچیانو میشته کول

فاروق

ښکاره ده چی زموږ گران هیواد د مالداری لپاره ښه مناسب دی ځکه چی په گوټ گوټ کی د غرونو لړی په خپلو لمنو کی ښی سمسوری دری، هو ار څړ ځایونه او هم د روانو اوبو منابع لری له همدی کبله له پخوا زمانو راهیسی د هیواد ډیر استوگن، مالدار او پرونده خلک پاتی شوی د څو وروستیو کلو د بیلا بیلو شمیرنو او څیړنو څخه معلومیږی چی نن سبا په هیواد کی د کوچیانو شمیر دوه نیم دری ملیونو ته رسیږی چی د ټول نفوس لسمه او په سلو کی لس برخی کیږی. اوس چی تر ډیره بریده د نوی ټکنالوجی په برکت د خلکو په ژوند کی پر مختگ راغلی او کوچیان له دی بهیره ډیر وروسته پاتی دی نو د همدی توپیر په وجه د میشتو خلکو په نسبت د کوچیانو ژوند ډیر گران او له ستونزو ډک دی څنگه چی نن سبا د کرنی او ځمکی ودانولو په ډگر کی هم ښه اغیزمن سامان الات منځته راغلی او هم د څارویو د روزنی ښه ښه فارمونه رواج شوی دی نو په همدی اساس د کوچیانو میشته کولو ته جدی اړتیا لیدل کیږی ددی پروگرام په عملی کیدو کی د هیواد لپاره لاندی گټی لیدل کیږی :

۱- د هیواد یو لوی شمیر وگړی به له دی ستونزمن او لا لهانده ژونده وژغورل شی او د نورو هستوگنو هیوادوالو په شان به د هیواد په اقتصادی او تعلیمی پر مختگ کی برخه واخلی، او هم به له هغو تاوانونو څخه خلاص شی چی وخت په وخت د یو زیات شمیر څارویو د هلاکت له کبله ورته رسیږی.

۲- د کوچیانو په میشته کولو سره به نوری شاړی ځمکی هم ودانی شی، زراعتی پیداوار، باغونه، ځنگلونه او میوی به زیاتی او د هیواد په عمرانی چارو کی به ډیر پر مختگ وشی.

۳- ددی پروگرام اړتیا ځکه ډیره ده چی د کوچیانو زیاتره برخه خالص د مجبوریت له مخی کډه په سر ژوند تیروی ځکه چی نه کور لری او نه پټی ، په دوی کی له نیمایی زیات د څلور سوو پسونو څخه کم مال لری، چی اصلاً په کوچیدلو هم نه ارزی، او هغه هم په داسی ډول چی د ژمی په ساړه موسم کی زیاتره د هیواد د جنوبی او ختیځو پولو په اوږدو کی د هغوی څاروی پرته له کوم محصول نه بهر ته لیږدول کیږی او د هیواد په اقتصاد کی هیڅ اغیزی نه لری .

٤- د کوچیانو په میشته کولو کی هیڅ ډول اقتصادی، اجتماعی او سیاسی ستونزی نشته ، بلکی ډیر په آسانی سره دا کار کیدای شی، ځکه په هیواد کی د ښو پراخو ځمکو هیڅ کمی نشته، نو که چیرته څه روانی او به او خوړونه هم نه وی دوی په خپل کار او خپلو لگښتونو ځمکی آباد ولای شی چی هم به د کرنی وړتیا ولری او هم به یی د کورونو او سر پناه ستونزه حل شی او ښایی لا داسی سیمی هم څه کمی نه دی چی په خوا کی یی ډیر ښه څړ ځایونه شته او خلک کولای شی د کرنیزو کارونو په څنگ کی یوه اندازه څاروی هم وساتی، خو په هر صورت اصلی خبره دا ده چی د هیواد د یو غټ شمیر ولس د ژوند مشکلات حل شی، هغه چی له ډیرو مودو راهیسی سرگردانه او لالهانده گرځی او کله کله د جوی مشکلاتو له کبله داسی هم کیږی چی له خپلی ټولی شتمنی لاس پرینمنځی او د پولی ټک ته کینی چی په دی هکله د اوسنی وچکالی ییښی ددی مدعا ښه ثبوت دی.

نظري پیرامون ۲۷ مین دور:
مسابقات بین المللي المپیک سدني ۲۰۰۰

محمد شعیب «صافي»

بیست و هفتمین دور مسابقات بین المللي المپیک در شهرك سدني کشور آستراليا تحت نام مسابقات المپیك سدني ۲۰۰۰ در موج احساسات هزاران تن ورزشکار و بیننده گشایش یافت. در طول مدت هفت سال از بیست و ششمین دور مسابقات بین المللي المپیك در امریکا جهان شاهد تغییرات و دگرگوني هاي چشمگیري بوده و مساعی گسترده بین المللي در جهت تامین صلح جهاني از جانب کشور هاو نهاد هاي معتبر بین المللي بکار رفته است.

درین وهله مسابقات المپیك با در نظر داشت قدامت تاریخي و شهرت جهانشمول خود بالاثر تلاش همه جانبه کمیته بین المللي المپیك و مقامات کشور استراليا اینك میزبان مسابقات سال ۲۰۰۰ المپیك کشور استراليا میباشد. درین مسابقات بیشتر از ۱۰۰۰۰ ورزشکاران از ۱۹۹ کشور جهان دعوت و در جریان افتتاح مراسم رسمي آن ۱۲۰۰۰۰ تن اشتراك ورزیده بودند . افتتاح آن با نمایشات اکروبات و آتش بازي آغاز و ۱۲۰ اسپ سوار در حالیکه پرچم هاي المپیك را با خود حمل میدادند ، رژه رفته و در پیشگاه آنان ورزشکاران یوناني قرار داشتند رژه ورزشي با نمایشات ورزشکاران استرالیایي پایان یافت. درین مراسم جان هوارد صدراعظم استراليا با ارایه سخنراني تاریخي خویش اشتراك ورزشکاران در مسابقات بین المللي المپیك در استراليا را خیر مقدم گفته افزودند که گشایش مسابقات بین المللي المپیك در سدني زمینه و فرصت خوبي براي دوستي و همکاري مردمان و شناسایي آن کشور به جهانیان مي باشد.

متعاقباً رئیس کمیته بین المللي المپیك با ارایه سخنراني خویش خواستار صرف مساعی بیشتر ورزشکاران کشور هاي مختلف جهان بخاطر افزایش فعالیت هاي ورزشي، صلح، تفاهم و همکاري بین المللي شدند. درین مسابقات ورزشکاران کوریاي شمالي و جنوبي تحت نام کوریاي واحد پرچم کوریا را با خود حمل میکردند متاسفانه ورزشکاران افغاني بنا بر دلایل جنگ داخلي که غربي ها آنرا وانمود میسازد فرصتي براي شرکت درین مسابقات را نیافتند ایجاد مانع در اشتراك ورزشکاران افغاني در مسابقات بین المللي المپیك سدني در واقع بیانگر چشم پوشي غرب از حاکمیت ا.ا.ا و ضدیت آشکار آن ها با نظام اسلامي در افغانستان میباشد در حالیکه ا.ا.ا بربیشتر از ۹۰٪ قلمرو کشور حاکمیت عام و تام داشته و در ساحات تحت حاکمیت آن مردم در فضاي صلح و اخوت اسلامي زندگي مینمایند.

اما غرب بعنوان دشمن اصلي مسلمانان ، بهانه قرار دادن حقوق بشر و مسئله زنان در افغانستان عملاً دشمني اش را با اسلام و نظام اسلامي در افغانستان آشکار میسازد چنانچه ا.ا.ا با در نظر داشت اصول و موازین سازمان ملل متحد بار ها تقاضاي احراز کرسي افغانستان در ان سازمان را نموده ولي چون ملل متحد وسیله تحقق اهداف غربي ها و در رأس امریکا بوده لذا از برسمیت شناختن ا.ا.ا و واگذاري کرسي افغانستان به ا.ا.ا جلوگیري بعمل آمده است امتناع از اشتراك ورزشکاران افغاني در مسابقات بین المللي المپیك سدني نیز دشمني علني غربي ها با نظام اسلامي در افغانستان میباشد.

موسسه پولي تخنیک از ...

پولي تخنیك کابل پیرامون تاریخچه این موسسه چنین توضیحات ارائه داشتند :

سنگ تهداب انستیتوت پولي تخنیك کابل در ماه میزان سال ۱۳٤۳ گذاشته شد و در سال ۱۳٤٦ به پایه اکمال رسید و مورد بهره برداري قرار گرفت . این موسسه ساحه ۳۰۰ جریب زمین را احتوا نموده شامل دو بلاك تدریسي، شش بلاك لیلیه، شش بلاك رهایشي براي استادان، طعام خوري، ورکشاپ ها، میدان هاي سپورتي و جمنازیوم میباشد.

تامیرده اضافه کرد : این موسسه از سال ۱۳٤٦ الي ۱۳٥۸ به سویه لیسانس فارغ التحصیل به جامعه تقدیم مینمود. در سال ۱۳٥۸ در چوکات موسسه پولي تخنیك پوهنځي ساختماني تأسیس گردید و بعد از سال ۱۳٥۸ براي تمام رشته هاي اختصاصي پنج سال تحصیلي تعین گردید که با در نظر داشت سمستر صفري بعد از اتمام دوره پنج و نیم سال فارغ التحصیلان را به سویه ماستر انجنیر به جامعه تقدیم مینمود. اولین گروپ این فارغ التحصیلان در سال ۱۳٦۳ به جامعه تقدیم شد . همچنان در سال ۱۳٦۰ پوهنځی الکترومیخانیك پا به عرصه وجود گذاشت و در سال ۱۳٦۱ شعبه آمادگی کارگري به کار خویش آغاز و در سال ۱۳٦۲ در چوکات موسسه پولي تخنیك شامل گردید شعبه مذکور فارغ التحصیلان صنوف هشتم را جذب مینمود و در سال ۱۳٦۳ در چوکات این موسسه به خاطر ارتقاي سویه تحصیلي انجنیران لیسانس پروگرام ماستري شبانه ایجاد گردید.

وي اضافه کرد : در سال ۱۳۷۲ از اثر جنگ هاي ذات البیني خسارات هنگفت مالي و معنوي بر پیکر این موسسه وارد گردید. از سال ۱۳۷۲ الي ۱۳۷٤ نسبت درگیري ها پروسه تدریسي این موسسه بر هم خورد و در سال ۱۳۷٤ دو باره به فعالیت خویش آغاز نمود. ولي نسبت مساعد نبودن وضع و راکت باري ها جریان دروس بطور نورمال به پیش برده نمیشد.

موصوف علاوه کردند : با فتح کابل توسط مجاهدین تحریك اسلامي طالبان این موسسه دروس خویش را در برج حمل ۱۳۷٦ دو باره آغاز نموده و با عطف توجه ا.ا.ا به خاطر ارتقاي سطح دانش اسلامي و مسلکي اولاد این خطه باستاني و مرد خیز همواره جهت تسهیلات براي محصلین گامهاي مثمر برداشته و زمینه فراگیري هر چه بهتر ځوېتر را مهیاگردانیده است. از جمله میتوان اهداي ٦٦٦ جلد کتب مختلف النوع دیني، ترمیم و باز سازي مجدد تعمیرات تدریسي لیلیه و سایر شعبات را بگونه نمونه نام برد.

انستیتوت پولي تخنیك کابل در سال ۱٤۲۱ داراي پوهنځي هاي ساختماني، جیولوژي و معادن و الکترومیخانیك میباشد.

موصوف اضافه کرد : در سال جاري در پوهنځي هاي فوق الذکر به تعداد ۸۰٥ تن محصل به فراگیري علم و دانش مسلکي مصروف میباشند . دروس آنها در هفت دیپارتمنت عمومي و یازده دیپارتمنت اختصاصي ذریعه، ۷۹ تن استادان شامل کدر علمي ۷ تن پوهاند ، یك تن نامزد پوهاند، ۱٦ تن پوهنوال ، ۱۷ تن پوهندوي، ۲۰ تن پوهنمل ، ۱۱ تن پوهیار، ٦ تن پوهیالي و شش تن استادان خارج کدر به پیش برده میشود .

تامیرده علاوه کرد : دیپارتمنت هاي عمومي ما عبارت از : ثقافت اسلامي، ریاضیات، فزیك، کیمیا ، هندسه، لسان خارجي وتربیت بدني میباشد. همچنان دیپارتمنت هاي اختصاصي ما عبارتند از : ساختمانهاي صنعتي و مدني، هایدروتخنیکي، سرك سازي، مهندسي تعمیرات، استخراج معادن برهنه، تکنالوژي کیمیاوي، نفت و گاز، استخراج معادن مفیده جامد، جیودیزي انجنیري، تامین برق شهر ها، اتومبیل و تراکتور.

در اخیر محترم الحاج مولوي محمد فاضل رئیس عمومي انستیتوت پولي تخنیك کابل چنین اظهار داشتند : موسسه پولي تخنیك کابل از آغاز فعالیت خویش الي سال ۱٤۲۰ هـ ق بیشتر از ٥۳۰۰ تن فارغ التحصیل را به سویه و رشته هاي مختلف به جامعه تقدیم نموده و در سال ۱٤۲۱ هـ ق به تعداد ٦۱ تن محصل در رشته هاي یازده گانه اختصاصي آماده فراغت میباشند.

سخني در حاشيه اجلاس هزاره مجمع عمومي سازمان ملل متحد

غفور احمد غزنوي

هر چند سياست دانان معاصر نسبت ازدياد روابط ، توسعه و انكشاف پيشرفتهايي تكنالوژيكي عصر حاضر را عصر سازمانها و نهاد هاي بين المللي دانسته و قرن نوين (قرن بيست و يكم) را قرن رفاه و آسايش مزيد تمدنها خطاب نموده اند.

ولي به نظر محققين آنچه به پيشرفتهاي معنوي و تلاشهاي موثر در عرصه فلسفه و رونق حقيقي زيست جاوداني بشر تعلق داشته با وصف پيشرفتهاي مادي عصر ما از اذهان اكثر خلايق به خصوص صاحبان قدرت سياسي بدور ماده و لحظه يي در اطراف حقايق و واقعيتهاي معقول و منقول (سماوي) چنانچه شايد و بايد تبادل افكار و طرح نظريات صورت نگرفته، لذا صاحبان خرد را عقيده براين است كه جهان ما در شرايط كنوني يك قدم (ناسنجيده) به پيش و دو قدم (تحميلي) به عقب ميگذارد. از سوي ديگر امت مسلمه با داشتن ارزشها و دساتير گهربار الهي چنان مدهوش و فريفته ماديات و تقليد هاي نامناسب بلكه نا مشروع گرديده كه گويي از مسلمان زيستن عار دارند (نعوذ بالله) ، و از جانبي هم حلقات استكباري و استبدادي جهان كه هوس تسخير فراگير در همه عرصه ها اعم از سياسي، مذهبي،اقتصادي و ديپلوماتيكي در سر دارند لحظه به لحظه بي آنكه موانعي در مسير آنها محسوس گردد وسعت يافته به تحكيم منافع و اغراض خويش ميپردازند به هر تقدير .

اينك شهر نيويارك (مقر سازمان ملل متحد) بارديگر شاهد پنجاه و پنجمين اجلاس مجمع عمومي سازمان ملل متحد گرديد كه توسط كوفي عنان به اشتراك بيشتر از يكصدو پنجاه تن از سران دول و كشور هاي عضو به تاريخ (۱۴۲۱/۶/۹ هـ ق) آغاز و مدت سه يوم ادامه يافت و با صدور اعلاميه يي كه در هشت صفحه گنجانيده شده بود خاتمه يافت و بطور مختصر بر مسايل چون جلوگيري از فقر و بيماري ايدز، توسعه و ترويج سواد و ديموكراسي تاكيد صورت گرفت .

ولي نكته يي كه در مورد جالب به نظر جلوه گر ميشود اينست كه ، اگر به كثرت اشتراك كنندگان آنهم همه رؤساي جمهور نگريسته شود، واقعاً اجلاس بي بديلي به نظر ميرسد ولي اگر به اشتراك اقاي برهان الدين رباني منحيث رئيس جمهور و نماينده مردم افغانستان توجه گردد حيثيت و حقانيت اجلاس مذكور در محور صفر تلقي ميشود و از سوي هم اگر به سرو صدا ها و هياهوي سران كشور هاي آسياي ميانه چون، تاجكستان، ازبكستان، قزاقستان و قرغزستان بذل توجه گردد چنان به مشاهده ميرسد كه گويي اجلاس مذكور صرفاً به موضوع افغانستان و نگراني از شكستهايي اخير مخالفين امارت اسلامي افغانستان اختصاص يافته بود. البته علل اين نگرانيها هويداست زيرا سياست استبدادي سردمداران كاخ كرملين در كشور هاي اسياي ميانه و در مقابل پاليسي استكباري و يكه تازي غرب در منطقه از اذهان تحليل گران بدور نمانده كه هر يك به نوبه يي خويش با تنشها و اعمال شيطاني در زمينه استفاده جويي ميتمايند اما آنچه به مرجع اميد جهانيان (چون سازمان ملل متحد) تعلق دارد با كمال تأسف كه تا حال سازمان مذكور در طول عمر خويش ۵۵ سال در حل قضايا و پرابلمهايي بين المللي قدمهاي موثري نگذاشته كه لا اقل مورد اقناع طامعين قرار گيرد و در زمينه مسايل متعدد لاينحل مانند قضيه كشمير، افغانستان لبنان و فلسطين و غيره شاهد اين مدعاست به هر حال .

شايان ذكر است كه سازمان ملل متحد بعد از سپري نمودن چهار مرحله (اعلاميه ا تلانتيك سال ۱۹۴۱م ، اعلاميه ملل متحد توسط ۲۶ كشور، طرح دامبارتون اكس سال ۱۹۴۴م و كنفرانس سانفرانسيسكو سال ۱۹۴۵ ما اپريل) بالاخره در ۲۴ اكتوبر سال ۱۹۴۵م با امضاي منشور آن توسط ۱۵ كشور و قبولي آن از طرف شوراي امنيت تاسيس گرديده است . ود ر بخش تشكيلات ارگانهاي اصلي خويش داراي شش ارگان (مجمع عمومي، شوراي امنيت، سكرتريت ، شوراي اجتماعي و اقتصادي، قيموميت و يك محكمه بين المللي ميباشد . و از جمله اهداف اساسي آن نگهباني صلح و امنيت بين المللي و منع جنگ از طريق اقدامات مشترك ، قطع تهديد و تعقيب متجاوز، حل اختلافات بين المللي از طريق مسالمت آميز ، توسعه روابط دوستانه بنا بر اصول تساوي و نگهباني حقوق آنها در مورد تعين سرنوشت، همكاري مشترك بين المللي در تمام عرصه ها و احترام به حقوق واقعي بشر بدون تبعيض، بشمار ميرود.

ولي تاجاييكه به حقايق تعلق دارد و تجربه هاي ۵۵ سال عمر اين سازمان ثابت ساخته در عرصه عمل اين مأمول به واقعيتها پيوست نگرديده زيرا از يك جانب احترام به اهداف مذكور در نقاطي مطرح بحث واقع است كه منافع قدرتهاي بزرگ محسوس باشد و از جانبي هم انحصار حق ويتو و حكميت در همه قضاياي بين المللي به گونه اختصاصي و غير عادلانه درپنج عضو دايمي شوراي امنيت سازمان ملل متحد حق تساوي و حاكميت دول جهان به خصوص جهان سوم را لحظه به لحظه تهديد مينمايد . لذا چنين جلسات و كنفرانسها بي آنكه يك اكت تشريفاتي و براي حفظ منافع مغرضين بزرگ عصر تلقي گردد چيز مثمر ديگري متصور نيمگردد پس بايد به مامول موصوف واقع بينانه جلب توجه گردد.

داصحابو د ژوند پلوشې

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

۲۲

په خدای سوګند، ما تاسی ته د جنګ امر نه و کړی بلکی تاسی ته می دا امر کړی و چی د قریشو د خبرونو پته ولګوی او د هغوی د حرکت څارنه وکړی.

حضرت پیغمبر «ص» د دوو تنو بندیانو خبره وځنډوله ، او د قافلی د مالونو له اخستلو څخه یی ډډه وکړه .

په دغه وخت کی عبدالله بن جحش او د هغه ملګرو پښیمانی وکړه، او پوه شول چی دوی د رسول الله «ص» د امر په مخالفت سره د هلاکت او تباهی سره مخامخ شول بلکی پر هغو باندی موضوع لا سخته شوه څکه مسلمانانو په هغو باندی ډیره ملامتی ویله او د هغو څخه یه یی خپل مخونه ګرځول او ویل یه یی :

هغوی د رسول الله «ص» د امر څخه مخالفت کړی دی.

مسلمانان په دغه کار سره لا په تکلیف کی شول څکه قریشو دغه پیښه د رسول الله «ص» څخه د کسات اخستلو، او په قبیلو کی د تشهیرولو وسیله وګڼله، او داسی به یی ویل :

محمد «ص» حرامه میاشت حلاله وګرځوله، په هغی کی یی وینه تویی کړه، مالونه یی لوټ کړل، او سړی یی بندیان کړل.

نه د عبدالله بن جحش او د هغه د ملګرو چی څه ور څخه لیدل شوی له خپګان او د هغو له شرم څخه چی رسول الله «ص» یی ورسره مخامخ کړی پوښتنه مه کوه .

کله چی پر هغو باندی غم زیات شو، او مصیبت یی درونډ شو په دغه وخت کی زیری ورکوونکی شخص راغی، او هغو ته یی د کړی کار د بخښنی چی خدای ور څخه راضی شوی زیری ورکړ، او خدای په دغه باب پر خپل پیغمبر باندی قرآن نازل کړ.

نه د هغو د خوشحالی د اندازی اټکل مکوه، خلک هغو ته مخه کوی، او هر یو هغوی ته زیری ورکوی، او د هغو د هر یوه سره روغبړ کوی ، او نازل شوی قرآن لولی.

په حضرت پیغمبر «ص» د خدای دغه کلام نازل شو :

ای محمده! خلک له تا څخه په حرامه میاشت کی د جنګ له حکمه پوښتنه کوی، دوی ته ووایه چی په حرامه میاشت کی (عمداً) جنګ کول لویه ګناه ده، او د الله له لاری (دین) څخه منع کول، او په الله کافریدل، او له مسجد حرام څخه منع کول او له دغه مسجد څخه د هغه د اهل ویستل په حرامه میاشت کی د جنګیدلو په نسبت د الله په نزد خورا لویه ګناه ده او فتنه (د دین څخه د خلکو ویستل) د وژلو په نسبت خورا سخته ګناه ده .

کله چی مبارک ایت نازل شو حضرت پیغمبر «ص» ډیر خوشحاله شو، بیا یی د قافلی مالونه واخیستل، او د دوو تنو بندیانو فدیه یی ومنله او د عبدالله بن جحش او د هغه د ملګرو د کړو څخه راضی شو .

د عبدالله او د هغه د ملګرو غزا د مسلمانانو په ژوند کی یوه لویه پیښه وګڼله شوه، او د دغی پیښی غنیمت لومړنی غنیمت دی چی په اسلام کی واخیستل شو او وژل شوی شخص لومړنی مشرک دی چی مسلمانانو د هغه وینه تویی کړی ده او بندیان یی لومړنی بندیان دی چی د مسلمانانو په لاسونو کی پریوتی دی، او بیرغ یی لومړنی بیرغ دی چی د رسول الله «ص» په لاس تړل شوی دی او مشر یی عبدالله بن جحش لومړنی شخص دی چی په امیر المومنین سره یاد شوی دی. بیا د بدر پیښه منځ ته راغله، او عبدالله بن جحش په هغی کی څنګه چی د هغه د ایمان غوښتنه وه خپله میړانه یی وښودله .

بیا د احد پیښه منځ ته شوه او په هغی کی د عبدالله بن جحش او د هغه د ملګری سعد بن ابی وقاص کیسه شته چی هیڅ هیریدونکی نه ده .

اوس خبره د سعد بن ابی وقاص ده چی موږ ته د خپلی او هم د خپل ملګری د کیسی بیان وکوی.

سعد بن ابی وقاص وایی : کله چی د احد غزا منځ ته شوه عبدالله بن جحش ماته راغی، او ویی ویل : ایا د خدای بلنه منی ؟

ما وویل : هو . بیا موږ په یو ځای کی ګوښه شولو، او دعا می وکړه او ومی ویل : ای خدایه! کله چی د دښمن سره مخامخ شوم نو ما د یوه داسی شخص سره مخامخ کړي چی هغه قوي غښتلي او ډیر قهرجن وي خو زه له هغه سره او هغه زما سره وجنګیږی، او بیا ما په هغه باندی بریالی او غالب کړی څو هغه ووژنم، او د هغه جنګی سامان واخلم، نو عبدالله بن جحش زما پر دعا باندی امین ووایه او بیا یی وویل :

ای خدایه! یو قوی او سخت جنګی سړی را په مخه کړه چی ستا د رضا لپاره د هغه سره وجنګیږم، او هغه ما سره وجنګیږی بیا هغه ما ونیسی، او زما پزه او غوږ پریکړی او بیا چی ستا تا سره مخامخ شم ته راته ووایی : په څه ستا پزه او غوږ پری شوی دی ؟

او زه ووایم : ستا او ستا د رسول د رضا په لاره کی . بیا ته ووایی : تا رښتیا وویل.

سعد بن ابی وقاص وویل : د عبدالله بن جحش د عا زما له دعا څخه ښه وه ما هغه د ورځی په وروستی برخه کی ولید چی هغه وژل شوی، او اندامونه یی پری شوی دی او پزه او غوږ یی په تار کی په یوی ونی کی ځوړند کړل شوی دی. الله تعالی د عبدالله بن جحش دعا قبوله کړه ، او هغه ته یی د خپل ماما (حمزة بن عبدالمطلب) په شان شهادت ورپه برخه کړ

حضرت پیغمبر «ص» دواړه په یوه قبر کی خښ کړل او د هغه پاکی اوښکی د دواړو د شهادت رنګینه خاوری سیرابه کړلی.

پاتي لري

OMAR International

ماین خبرتیا او ژغورنه

د پټ دښمن څرګند ګواښونه ۵

تلوېزيون ډوله ماين MON-50

دغه ماین له پلاستیک څخه په ژیړ او شین رنګ جوړیږی څلور پښی لری او د ځمکی پر مخ درېږی ، له دغه ماین سره یو سیم هم تړل شوی چی د هغه د پری کیدو یا کش کیدو همدارنګه برقی شارټ سره چاودنه کوی او تر سلو ګامونو د مرګ ژوبلی او ویجاړتیا سبب ګیدای شی ددغه ماین مواد، جوړښت او رنګ له نورو سره یو څه توپیر لری، په دی کی خطرناکی چری ځای پرځای شوی څرنګه چی په زره پوری ښه لری څکه خو خلک په تیره ماشومان پری غولیږی څکه خو هغه ته له نژدی کیدو او لاس وروړلو څخه ښایی ډډه وشی.

موږی ډوله ماين POMZ-2

دغه ماینونه د موږی په ښه له وسپنی او لرګی څخه جوړ شوی ، لاندینی برخه یی چی په ځمکه کی د موږی په څیر ښخیږی له لرګی څخه جوړه شوی چی د ماین وسپنیزه برخه پری کلکیږی ، له لوړی برخی سره یی یو سیم تړل شوی چی د پری کیدو یا کش کیدو سره چاودنه کوی او تر پنځوسو ګامونو د مرګ ژوبلی سبب کیږی دغه ماینونه زیاتره په بوټو لرونکو سیمو او ځنګلونو کی ایښودل کیږی دا هم شونی ده چی کله نا کله ددغو ماینونو وسپنیزه برخی ښایی له لرګینو برخو څخه بیلی پرتی وی چی بیا هم لاس وروړل خطرناک ګڼل کیږی ددغو ماینونو سست او کش سیمونه په اسانی د لیدو وړ نه دی څکه خو بی ګواښونو ته ښایی پوره پاملرنه وشی.

چلم ډوله ماين OZM-3

دغه ماین له وسپنی څخه جوړ شوی او زیاتره یی شین عسکری رنګ لری چی د ځمکی پر مخ یا تر ځمکی لاندی ځای پر ځای کیږی ښایی کوم سیم هم ورسره تړل شوی وی چی کله د پری کیدو، کله د کش کیدو او کله هم د برقی شارټ په وسیله چاودنه کوی او د پنځو سو ګامونو تر واټنه د مرګ ژوبلی سبب کیدای شی دغه ماین د چاودنی په وخت کی له ځمکی یو متر لوړ ټوپ وهی او چاودنه کوی له دی کبله یی باید ګواښونو ته پاملرنه وشی.

پکی ډوله ماين POM-25

پکی ډوله ماین چی له وسپنیزو موادو څخه په شین عسکری رنګ جوړیږی شپږ پښی لری له برنی برخی سره یی دوه اوږده سیمو نه تړل شوی، چی له الوتکی نه ځمکی ته راغورځول کیږی د ماین له سیمونو سره د لاس لګیدوله امله چاودنه کیږی او تر پنځوسو ګامونو د مرګ ژوبلی سب کیږی.

نارنجک ډوله ماين M-77

دغه ماین د بوتل یا زنګولی بڼه لری او اصلی عامل یی ویجاړونکی توغندی دی په دی کی د سکر ۳۰ توغندی ۹۸ او د سکر ۱۸ توغندی ۷۷ دغه ډل ماینونه له ځان سره لیږدوی د یوه ماین په لیدو د نورو ماینونو ګواښ ښایی له پامه لیری نکړو دغه ماین له کلکو وسپنیزو موادو څخه جوړ شوی چی زیاتره یی شګلن رنګ لری په برنی برخه کی یی د لاټین د پلتی په څیر یوه پلاستیکی پلنه پلته لیدل کیږی چی له لاس لګیدو او کش کیدو سره چاودنه کوی او تر سلو ګامونو د مرګ ژوبلی سبب کیږی نوموړی ماین د سکر توغندیو په وسیله غورځول کیږی.

نوریها

شفاخانه ستوماتولوژي يكي از شفاخانه ...

شب و روز بصورت مجاني در خدمت هموطنان قرار دارد.

خبرنگار ما جهت معلومات خواهران و مادران گرامي از بخش هاي مختلف سرويس اناث اين شفاخانه باز ديده نموده و اين گزارش را تهيه نموده است كه با هم ميخوانيم :

در آغاز محترمه دوكتورس فهيمه «كامل» آمر شعبهء جراحي پيرامون فعاليت و كاركرد هاي شفاخانه چنين معلومات ارائه نمودند. در شفاخانهء ستوماتولوژي شعبات ذيل مصروف خدمت براي هموطنان ما مي باشد.

۱- شعبهء جراحي : شعبه متذكره شامل دو شعبه ديگر بنام جراحي وجه و فك مي باشد.

۲- بخش داخله ، ۳- جراحي اطفال ٤ بخش پارادنتولوژي كه شامل تداوي مختلف امراض دندان مي باشد.

روزانه به تعداد ۱۸۰-۲۰۰ مريض در بخش هاي مختلف اين شفاخانه مراجعه نموده و بطور مجاني معالجه ميشوند .

مريضان تازه وارد ابتدا به همين شعبه مراجعه نموده و بعد از معاينه به شعبات مختلف معرفي ميشوند.

قابل تذكر است كه در اين شعبه دو داكتر و دو نرس روزانه موظف مي باشند.

همچنان مسوول وارد شعبه جراحي محترمه ستوماتولوگ انيسه«عزت» پيرامون كار كرد هاي شعبه مربوطه چنين معلومات ارائه نمودند :

در اين شعبه مريضانيكه دندان هاي شان قابل كشيدن باشد بعد از پرسش هاي گوناگون و چك نمودن وضع روحي و جسماني كامل مريض دندان شان كشيده ميشود دندانهاي مريضانيكه داراي فشار خون ، تكليف قلبي ديابت(شكر) و همچنان خانم هاي حامله نبايد كشيده شود. زيرا ادويه انستيزي بالاي مريضان فوق الذكر تاثيرات سو بجا ميگذارد به خصوص در مادران حامله بعضي اوقات باعث سقط جنين ميگردد. همچنان باعث سو شكل شدن نوزاد و بعضاً قبل از ميعاد بدنيا آمدن طفل ميگردد.

همه روزه حدود ۷۰-۸۰ مريض به شعبه جراحي مراجعه مينمايند در شعبه جراحي ٦ داكتر و سه معاون داكتر مصروف مي باشند.

محترمه دوكتورس جان شيرين در مورد شعبه پارادنتولوژي به خبرنگار ما چنين معلومات ارائه داشتند : در شعبه پارادنتولوژي تداوي امراض جوف دهن از قبيل بيره، زبان و لب ها صورت ميگيرد.

محترمه دوكتورس آمنه هاشمي در مورد شعبه داخله گفتند كه سرويس داخله داراي دو بخش است. تداوي و پر كاري، تعداد مريضان روزانه اين سرويس را ۱۵-۲۰ مريض تشكيل ميدهد.

محترمه دوكتورس وحيده عطايي در مورد شعبه جراحي اطفال چنين گفتند : در شعبه اطفال صرف كشيدن دندانهاي اطفال صورت ميگيرد. و روزانه ۲۰-۲۵ مريض به اين شعبه مراجعه مينمايد.

محترمه دكتورس وحيده عطايي به جواب اين پرسش كه چرا دندانهاي اطفال در دوران طفوليت سياه و خراب شده و حتي سبب كشيدن دندان ميشود ؟ چنين گفتند : علت عمده آن عدم مراعات حفظ الصحه جوف دهن خوردن چاكليت و شيريني باب و كمبود ويتامين ها ، پروتين هاو به خصوص كلسيم مي باشد.

مادران بايد اطفال خود را از خوردن شيريني باب زياد جداً جلوگيري نمايند زيرا شيريني باب در توليد كريز (كرم خورده گي) رول عمده را دارا مي باشد. همچنان براي اطفال فهمانده شود تا چيز هاي سخت و محكم مانند چارمغز، بادام و امثال آن را با دندان ميده نكنند . هم چنان مادران بايد بدانند كه در جريان حمل و شير دهي بايد از خوردن دوا هاي خود سرانه به خصوص ادويه تيتراسكلين جداً خود داري نمايند زيرا در رنگ دندانهاي اطفال و خروج نادرست و نا منظم آن رول عمده را دارا مي باشد.

خبرنگار ما از مريضان داخل بستر، و بستر هاي شعبه جراحي وجه و فك نيز باز ديد نموده محترمه دكتورس حميده منير وردك در مورد شعبه متذكره چنين ابراز داشتند: در اين بخش دو داكتر ستوماتولوگ و يك نرس شب و روز در خدمت مريضان قرار دارند اين بخش داراي ۸ بستر مي باشد بخش وجه و فك شامل امراض آپسي ها، ملگ مدن، ستوميااليت، كسر ها، تصادمات ترافيكي، و واقعات توموري مي باشد.

تعداد مريضان روزانه اين بخش را ۱۰-۱۵ مريض تشكيل ميدهد كه بستر، غذا و ادويه از جانب شفاخانه به صورت رايگان برايشان توزيع مي گردد قابل ياد آوري است كه ادويه دواخانه شفاخانه ستوماتولوژي از جانب وزارت صحت عامه ا.ا.ا اكمال مي گردد متاسفانه شفاخانه ستوماتولوژي را هيچ يك از موسسات خيريه خارجي كمك نمي نمايد.

گزارشگر : سطانه ايوبي

سيمينار استادان ثقافت اسلامي ...

عبداللطيف منصور وزير زراعت، محترم مولوي قدرت الله جمال وزير اطلاعات و كلتور، محترم ملا محمد حسين مستعد معاون اول رياست عمومي اداره امور و عده ديگر از اعضاي كابينه ، مسؤولين بلند پايه امارت اسلامي، علما ، استادان پوهنتون كابل رؤسا و معاونين پوهنتونهاي ولايات ننگرهار، هرات و بلخ و عده زيادي از دانشمندان و منسوبين وزارت تحصيلات عالي تدوير يافته بود ابتدا آياتي چند از كلام الله مجيد توسط محترم استاد قاري بركت الله سليم قرائت گرديد بعداً محترم قاري دين محمد حنيف وزير تحصيلات عالي ضمن بيانيه افتتاحيه خويش شاخص هاي اساسي سيمينار را برجسته ساخته مكلفيتها و وجايب علما و دانشمندان به ويژه استادان ثقافت اسلامي را كه مشعلداران راستين و صديق فضايل و حكمت هاي اسلامي و علم و معرفت در جامعه اند در راستاي تدوير چنين سيمينار هاي علمي مفصلاً توضيح نمود.

محترم وزير تحصيلات عالي با شاره به رسالت سترگ علما و استادان ثقافت اسلامي كه بدون شك وارثين اوليا بوده بايد ارزشهاي دين مبين اسلام و عقيده و معنويتي را كه از پيغمبر بزرگ اسلام حضرت محمد «ص» بجا مانده به گوش جهان اسلام برسانند و در راه تعليم و تربيه شاگردان متعهد و متخصص دين اسلامي و ايماني شان را ادا نمايند. سپس محترم مولوي پير محمد روحاني رئيس پوهنتون كابل روي اهداف و چگونگي تدوير سيمينار ثقافت اسلامي روشني انداخته متعاقباً محترم ملا محمد حسن اخند معاون اداري رياست الوزرا با ايراد بيانيه [illegible] محتواي شان نقش علما، استادان [illegible] دي علمي را در اين مرحله حساس و سرنوشت ساز مشخص ساخته ارزشمندي و ارجحيت كانون هاي علمي را كه در آن ثقافت اسلامي جاي ويژه يي دارد برجسته نمود.

محترم معاون اداري رياست الوزرا با اشاره به مشكلات مردم افغانستان و ضرورت تلاشهاي بي شايبه و خستگي ناپذير استادان و دانشمندان موسسات تحصيلي نهاد هاي فرهنگي و كانونهاي علمي كه در راه تعليم و تربيه سالم اولاد وطن به خرج ميدهند بر تداوم عرق ريزي ها و زحمات شباروزي آنان در اين راستا تاكيد ورزيد.

بعداً محترم مولوي محمد مسلم حقاني معين اداري وزارت تحصيلات عالي و استاد پوهنځي طب كابل مقاله خويش را تحت عنوان اصول حديث قرائت نمود سپس محترم ملا عبداللطيف منصور وزير زراعت ، محترم ملا محمد حسين مستعد معاون اول رياست عمومي اداره امور و محترم مولوي قدرت الله جمال وزير اطلاعات و كلتور بالترتيب طي سخنراني هاي شان هدف از پيگيري علوم عصري و علوم اسلامي را حاصل نمودن رضاي خداوند «ج» پيشرفت و ترقي كشور آسايش و رفاهيت مردم دانسته گفتند جمع شدن شما استادان و دانشمندان در اين سيمينار به مفهوم آن است كه شما درقبال آن مسووليت سنگيني را به دوش گرفته ايد و به منظور يك هدف و يك مقصد جمع شده ايد تا نهال هاي تازه و نورس را به سوي رشد و باروري و فرداي خوشبخت و سعادت مند رهنمون گرديد. در بخش دوم سيمينار كه به ساعت يك و نيم بعد از ظهر آغاز گرديد بعد از تلاوت آياتي چند از كلام الله مجيد محترم مولوي عبدالسلام حنفي معين وزارت معارف و استاد پوهنځي حقوق ، محترم مولوي فضل الرحمن استاد پوهنځي فارمسي، محترم مولوي گل نبي الفت استاد پوهنځي ساينس ، محترم مولوي عبدالباقي حقاني استاد پوهنځي انجنيري و محترم مولوي عبدالغفور استاد پوهنځي زراعت ، محترم مولوي ولي محمد استاد موسسه پيدا گوژي ، محترم استاد قاري بركت الله سليم استاد موسسه طب و محترم مولوي خالق داد استاد پولي تخنيك مقالات شان را زير عناوين حكمت النكاح، حكمت نماز عيدين، كتابت و جمع آوري قرآنكريم و حكمت العرف الغنيمه ، اختلاف علما در تلاوت قرآنكريم بالاي قبور ، معلومات مختصر در باره جمع آوري قرانكريم و نزول القران علي سبعته احرف نمودند كه پس از قرائت هر مقاله به پرسشهاي دانشمندان نيز پاسخ هاي قناعت بخش ارائه گرديد.

كار سيمينار براي مدت سه يوم ادامه دارد.

كارت نان خبازي ...

اين مطلب را شاغلي گيوله لبمل مسوول دفتر موسسه اكتيد در كابل به خبرنگار ما اظهارد اشته افزود :

البته كارت هاي جديد تحت ديزاين و چاپ قرار داشته و چگونگي تجديد اين كارت ها تا حال از جانب دفتر WFP براي ما توضيح نگرديده است . وي اين را هم افزود كه از طي دو روز بدينسو در پروسه پخت و توزيع نان كارت خبازي هاي ملل متحد در شهر كابل يك سلسله تغييرات رونما،گرديده است : اولاً تنقيص ۲۰ گراء آرد در وزن في قرص نان و ثانياً تزئيد قيمت في قرص نان از ۶۰۰ افغاني به ۸۰۰ افغاني .

پروژه آبرساني ...

رهبري وزارت فوايد عامه ا.ا.ا افتتاح گرديد. يك منبع مسؤول در زمينه به خبرنگار ما اظهار داشت : شبكه مذكور شامل دو پمپ حوض ۷۰ متره در ساحه خوشحال مينه بوده كه فعلاً يك پمپ حوض آن به ظرفيت آبدهي ٤۰ ليتر آب در في ثانيه بوسيله نصب يكپايه جنراتور ۱۰۰ كيلو واته مورد استفاده قرار گرفته است .

آب پمپ حوض متذكره به نل عمومي مخزن وصل گرديده و قرار است بعد از پروسه ذخيره شدن آب در مخزن حدود ۳۵ هزار خانواده مربوط ساحات كارته پروان ، كارته مامورين ، كارته آريانا هوتل انتركانتيننتال ، باغ بالا ، و پولتخنيك كابل از نعمت آب آشاميدني صحي مستفيد گردند. هكذا خاطر نشان بايد ساخت كه جنراتور متذكره به كمك موسسه هبيتات ملل متحد خريداري و نصب گرديده و مصرف روغنيات آن بدوش موسسه مذبور مي باشد.　　مهربان

د تيلو د بيې ...

راهيسې د لارو د ترلو او ددغه هيواد په جنوبي او مركزي سيمو كې د تيلو د زيرمو د كلابندېو لپاره ځانونه تيارکړي او د نورو نقليه وسايطو چلوونكو هم د تيلو په پمپ ستيشنونو كې د تيلو د تر لاسه كولو لپاره گڼه گونه جوړه كړې وه . تاكل شوې ده د دغه اعتصابونه پرون پيل شي .

اته جريبه ځمكه ...

باالمعروف او نهي عن المنكر وزارت د اړوندو ادارو د فعاليتونو په دوام په دې وروستيو وختو كې د پكتيكا ولايت په مركز كې اته جريبه ځمكه د بنگولو له بوټو څخه پاكه شوه .

۸ باب دواخانه ...

بررسي وزارت صحت عامه اخيراً به اثر تفتيش و كنترول شان از دواخانه هاي مختلف شهر هشت باب دواخانه را در مناطق خواجه لكن و خواجه مسافر ولسوالي پغمان نسبت نداشتن دواساز و فروش ادويه هاي تاريخ گذشته و بدون كيفيت هر كدام را براي مدت پنج يوم مسدود نمود.

د بهرنيو چارو محترم ...

وخت په پرتله په افغانستان كې د نړيوالو خيريه موسسو لپاره د كار او فعاليت شرايط برابر شويدي او د اسلامي امارت په ټينگښت سره ډاډ من امنيت تأمين شويدي.

وروسته د بهرنيو چارو وزير محترم مولوي وكيل احمد متوكل په افغانستان كې د ان. سي. اي موسسې د فعاليتونو له امله د قدرداني په ترڅ كې وويل : په افغانستان باندې د روسانو د تيري او تنظيمي جگړو له امله د افغانستان د ځوريدلو خلكو اقتصاد سخت زيانمن شويدي. په افغانستان باندې د ملگرو ملتو سازمان د امنيت شورا بنديزونو او رواني وچكالي زمونږ د خلكو ستونزې او مشكلات لا پسې زيات كړيدي.

د افغانستان اسلامي امارت تل د هغو نړيوالو خيريه موسسو چې په سختو شرايطو كې د افغانستان له خلكو سره مرسته كوي هر كلي كړيدي او هغوی ته يې لازمې اسانتياوې برابرې كړيدي.

محترم قاضي القضات ...

بخشي از سخنان عالمانه خويش فرمودند : بدون شك به علما و قضات محاكم ، مسوليت بزرگ و نهايت سنگين سپرده شده است زيرا در تنفيذ شريعت و تامين عدالت كه وظيفه شان ميباشد نه تنها فوايد ديني و اخروي وجود دارد بلكه اعمار واقعي و ترقي حقيقي يك مملكت هم به آن وابستگي دارد. در دوره خلافت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه والي يك ولايت براي او نوشت كه يك مقدار پول و مال را برايم بفرست تا شهر را آباد و هم دورادور آن ديواري را احاطه نمايم خليفه اسلام عمر بن عبدالعزيز در جواب والي گفت: شهر را به عدالت آباد و ديوار عدل را از شهر خود احاطه كن و راه اي شهر را از ورود ظلم مسدود نما كه اين اعمار حقيقي و حفاظت واقعي شهر ميباشد پس علما و قضات محاكم بايد مسوليت پر عظمت و سنگين شان را بشكل درست و واقعي ادا نمايند.

محترم قاضي القضات افزودند : بعضي از اصحاب دعاوي كه از جانب شريعت در محاكم ملامت ميشوند در حاليكه حقيقت و واقعيت را خوب ميدانند باز هم از شرم مردم و جهت غرور خويش خود را ملامت نمي دانند و بالاي محاكم و قضات تهمت هاي گوناگون را وارد مي نمايند كه اين يك دليل بر نقصان ايمان است. هيچگاه يك انسان مومن كامل شده نميتواند كه وي در مقابل فيصله شرعي واقعي در دل خود حرج و تنگي را پيدا نمايد پس چرا مردم بعد از يك تاوان خورد دنيوي كه باختن دعوي است تاوان اخروي كه به چندين مراتب بزرگتر است به تهمت تا حق خويش براي خود كسب مي نمايند. محترم رئيس ستره محكمه علاوه نمودند : بعضي اوقات به عده از مسوولين حكومتي و منسوبين امارتي در باره بعضي قضايا و موضوعات و بعضي از آن اجراأتيكه به محاكم مربوط ميباشد تشويش و يك نوع گمان پيدا ميشود پس بايد بخاطر معلوم نمودن حقايق و رفع تشويش شان به مسؤل محكمه مربوطه يا به ستره محكمه در تماس شوند تا بعد از درك حقايق و واقعيت ها اطمينان خود را حاصل نمايند. زيرا بسا اوقات چنين شده كه بعد از تماس گرفتن شان از جانب مسوولين محاكم براي آنان حقايق روشن ساخته شده و قناعت شان حاصل گرديده است .

در كولمبيا قواي ...

واصله درين درگيريها حد اقل نزده عسكر كشته و چهل و چهار تن ديگر مفقود الاثر شده اند. در باره تلفات شورشيان چيزي گفته نشده است.

د كوپون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنی	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

نړيوال بايد نور ...

ارزو ده نړيوال بايد د هغوی په حق ستر گی پټی نكړي او اوس د رسميت پيژندلو ټول شرايط برابر دي بايد نړيوال پري قناعت وكړي او حقايق نور تر پښو لاندې نشي.

د استاد رباني اداره چې بواځي د كابل پر شپږ كيلو متري يې حكومت كاوه او نور په ټول هيواد كې جنگ وو خو د ملگرو ملتونو لخوا يې اداره په رسميت پيژندل شوې وه او اوس چې اسلامي امارت د هيواد په ۹۵ فيصده خاوره بشپړ تسلط لري سرحدونه او بين المللي د گروپونو يې په واک كې دي او ټول هغه شرايط چې د يوه هيواد د رسميت پيژندلو لپاره ضروري دي هغه ټول برابر دي نو د پورتنيو حقايقو په نظر كې نيولو سره بايد ملگري ملتونه نور واقعيتونه ومني او اسلامي امارت په رسميت وپيژني .

محترم زاهد په هيواد كې د ښځو د تعليم او د هغوی د كار په اړه ځرگنده كړه : افغانستان شل كلنی جگړې سخت ځپلی دی او په يوه وار ټول كارونه طبيعي حالت ته راوستل اسان كار نه دی موږ د ښځو د تعليم مخالف نه يو خو يواځنی مشكل مو اقتصادي ستونزې دي. محترم زاهد له امريكايي چارواكو سره د ليدو په اړه وويل : د هيوادونو د چارواكو تر منځ ليده كاته يو ضرورت دی د همدې ليدو په ترڅ كې كيداي شي تفاهم را منځ ته شي او ستونزې حل شي. تو موږ په امريكا كې له ميشتو افغانانو سره د ليدلو په اړه وويل زموږ لومړنی هدف دا دی چې له هغو افغانانو سره چې له وطن نه لرې په مهاجرت كې اوسيږي او په خپل هيواد كې د يوه سوله ايز ژوند په ارمان دي وويښو او له هغو سره خبرې وكړو .

د لعل پوري ولسوالي نه د تورخم ...

محترم الحاج مولوي لطف الله حقاني سره د يوې مركې په ترڅ كې د دوی د اړوندو چارو او فعاليتونو په اساس جوړ كړی دی. هيله ده چې د پاملرنې ور مو وگرځي .

په پيل كې د ننگرهار ولايت د فوايد عامې لوی رئيس محترم الحاج مولوي لطف الله حقاني د ا.ا.ا له واكمنی را وروسته د هيواد د ختيځ زون په كچه د خپلو چارو او فعاليتونو په هكله داسې ځرگندونې وكړې :

د ختيځ زون په كچه د سرخ آب له پله نه د استحكام تر پله پورې د ۷۵ كيلو مترو او د لغمان ولايت نه د سرخكانو د استحكام تر پله پورې د ۱۱۰ كيلو مترو او همدا رنگه له ماركونه تر غني خيلو پورې د ۹ كيلو مترو په اوږدوالي سركونو باندې جغل اچول شوي او ترميم شوي دي دغه راز د لعل پوري ولسوالي نه د تورخم په استقامت نږدې ۹ كيلو متره سرك په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی او قبر پرې اچول شوی دغه راز د لغمان ولايت د سركونو د خوندي ساتنې لپاره ٤٥٠ متره استنادي ديوالونه جوړ شوي په همدې ډول د جلال آباد د عيدگاه د پارك د بيا رغونې اوښكلا لپاره په دې پارك كې ۲٥٠۰ لارې شگه او سرمه ريگ اچول شوي دي د يادونې وړ ده چې له پل سرخ آب نه تر غزگی پورې عمومي سرك داغگيري او په اساسي ډول بيا رغول شوی او د زياترو سركونو او عامه لارو پر سر د پرتو پلونو استنادي ديوالونه او رنگ كاري سرته رسيدلي.

دي زياتوي : د ننگرهار ولايت د فوايد عامې د لوی رياست او ددغه رياست اړوند د بنايي آمريت وداني بيا ترميم او رنگمالي شوي دي همدا رنگه د بنايي آمريت له خوا څه موده پخوا دري داشونه جوړ او په كار اچول شوي چې په يوه اووني كې ۱۰۰ زره اومې خښتې په پخوا اړوي دغه راز د شينوارو په لويه ولسوالي كې د ۲٥۰ مترو په اوږدوالي او تر كندن كاري پورې د ۳ مترو په اوږدوالي او ۳ مترو په سور استنادي ديوالونه جوړ شوي او په دې توگه د سيمې نږدې ۱۰۰۰ جريبه د كرنې وړ ځمكه د طبيعي ناورينونو له خوراك څخه خوندي شوې ده .

په پاي كې د ننگرهار ولايت د فوايد عامې لوی رئيس محترم الحاج مولوي لطف الله حقاني ځرگنده كړه چې د بتي كوټ ولسوالي د انبار خانې په سيمه كې د اوبو د مخنيوي لپاره لازم ديوالونه جوړ شوي او په دې ډول دوه لوی كلي د اوبو له ناڅاپي ناورين څخه خوندي شوي دي.

زموږ لپاره د زياتې خوښې ځای دی چې د هيواد په ختيځ زون كې د ا.ا.ا تر واكمنی لاندې د بشپړې سولې او امنيت په فضا كې د خپل هيواد د بيا رغونې ، سمسورتيا او ښيرازۍ په چارو بوخت يو. او خپل ټول هغه امكانات چې په لاس كې يې لرو په دې لاره كې مو په كار اچولي دي.

حميدالله «عالمی»

در امريكا مبارزه انتخاباتي ...

پرورش و توجهات طي بحث و گفتگو خواهد كرد. آخرين ارقام حاكيست كه جورج دبليو بوش كانديد جمهوريخواهان سي و هشت فيصد و الگو كانديد دموكراتها پنجاه و دو فيصد نظر راي دهنده گان انتخابات را بخود جلب كرده اند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Ghulam M.Farooq
Printed by: Emirate Printing Press